مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۱۹/۱۱/۲۸

# د حکمت نظاره

ډیر ځله به په کوچنیوالي کښي، چي د خپلو مشرانو تر شا روان وو، نو د هغوي عادت داسي وو، چي په لاري کي به یی کوم کاغذ تر سترګو شو، یا په لارې کي به پروت وو، هغه به یی په دي نامه چي ګوندی د خدای (ج) یا پیغمبرانو نومونه په کي نه وي او پښو لاندی نه شي، هغه به یي اوچت کړ او د لارویانو د پښو نه به یی لـرې چیرته کېښوده.

څرنګه چي دا عادت راته د خپلو مشرانو نه په میراث پاتي وو، نو د هجرت په دوران یا په کلنو کي د پیښاور د تاون د نهر تر غاړه روان وم، تر مخه می یوه شلیدلي پاڼه چي د ماشومانو د مجلي څخه شلیدلی پرته وه، ما هم په دي نامه چي د خدای یا رسول نوم پري نه وي لیکلی، چي تر پښو لاندی نشي، نو دا ځیرلي پاڼه می چي د رنګین کمان د مجلی وه اوچته کړه، چي کاته می دوي څلوریځي، او یو نعت شریف په کي وو. په دوو څلوریځو کي یوه د حب وطن او بله یی د خدای تعالی په ثنا او صفت کي وه ،دا دوه شعرونه زما وو او نعت شریف د بل چا وو.

نو ما ته دا د حکمت نظاره او د پند څخه ډکه خاطره وه، ځکه د حیرانتیا خبره دا ده چي ګوندې انسان دي یوه پاڼه له ځمکي څخه اوچته کړي، او هغه دي په خپله د شاعر خپل شعر وي، دا ۱۳۷۹کال او زما د هجرت شلم کال وو، چي د دي پاڼي یوه څلوریځه چي د خدای (ج) په ثنا کي وه او د حضرت سعدی صاحب د یو شعر نه په الهام اخیستو سره می ویلي هغه دا ده:



هر ورقی د ګلشـن کي ستا حکمت دی
د بـلبلو په ثــنا کي ، ستـا صـفــت دی

په نظر د عـبرت بین، په دي چمن کي
هره پاڼه یـــي، دیـوان د مـعـرفت دی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ